۲۹/۱۰/۱۰

# "یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"

## لیوهو – لان

انځورګر: منګ چینګ – چیانګ

ژباړه: فرهاد ویاړ

(پنځمه برخه)



په ۱۹۴۶ کال کې، چانګ کای – شک د امریکا امپریالیزم په حمایت سره، کورنی جګړه په لاره واچوله. کله چې انقلابي ځواکونو دښمن تانګ چوانګ کلي کې کلابند کړی و، لیوهو- لان او څو نورو میرمنو پوځیانو ته اوبه او ډوډۍ وړله او د ټپیانو د ژغورنې لپاره په زړورتیا سره د دښمن د توپکونو د ډزو مخې ته ودریدل. کله چې به مهمات کمیدل، هغې به جبهې ته د مهماتو د رسولو لپاره له میرمنو څخه مرسته غوښتله.



دښمن هغه کلي ته نژدې مورچلې جوړې کړی وی، چیرې چې هو- لان ژوند کاوه. ګوندي ځانګې پریکړه کړی وه چې د کلي ډیرې کدرونه پوځې ادې ته لاړ شي او کم شمیر کسان د مبارزې مخې ته وړلو لپاره، د جبهې شا ته پاتې شي. هو – لان ته وویل شول چې جبهې ته لاړه شي، څه چې هغې په خپله هم غوښتل. خو کله چې هغې خونړۍ

مبارزې ته فکر وکړ چې په پام کې وه د هغې په کلي کې تر سره شي، اجازه يې وغوښتله چې د جبهې شا ته پاتې شي. ګوندي سازمان د دې غوښتنې سره خپل موافقت اعلام کړ.



وضعيت په کلي کې لا خراب شوی و. مزدورانو تل کلي باندې بريد کاوه. ليوهو- لان يو وسله وال ټيم ته غړي نيول. دې ټيم د دموکراتيک واکمنتيا لپاره، پر وسله والې مبارزې ټينګار کاوه.



شي تینګ – هیوای، د کلي د ټوقمارو مشر شوی و. هغه «مخ په وړاندې د کور په لور» د وسله والو اربابانو، سرکرده و. د غچ اخیستنې او د چانګ کای – شک ارتجاعي پوځ لپاره د پیسو او غلې دانې د راټولو لپاره یې کوښښ کاوه. هغوې همدا ډول د کومیندانګ لپاره جاسوسي کوله. د شي تینګ – هیوای د قومندې تر لاندې د زمیندارانو لښکرګي د کلي کدرونه نیول او د هغوې د کورنۍ غړي یې وژل. لیوهو- لان د ارباب ځناورتوب د خلکو ایالتي دولت ته راپور ورکړ. ارباب شي د ولسونو د غوښتنې له امله ډیر ژر ونیول شو او اعدام شو.



د ولسي دولت لخوا د ارباب د اعدام د خبر اعلامیه لیوهو- لان او د دښمن په زړه کې د کاري ټیم غړو په دیوال ووهله او ځینې شعارونه یې هم ولیکل. د هغوی دا کار، او همدا ډول شعارونو، د دهقانانو مورال پیاوړی کړ او د دښمن د غرور باد یې تش کړ.



یوه ورځ سهار، دښمن ناڅاپي کلی کلابند او څو تنه کدرونه يې ونيول. شي وو – تسه هم د نيول شويو په منځ کې و. شي، ګوند ته خيانت وکړ او خپل ملګري يې دښمن ته ښکاره کړل. ليوهو- لان د دې خبرې په اوريدو سره، په پټه د نورو کدرونو سره وليدل څو د دې اقدام په اړه، اړينه پريکړه وکړي.



وضعیت لا خطرناک شو. ګوندي ځانګې له هو- لان څخه وغوښتل چې غره ته لاړه شي – هغوی غوښتل چې له هغې سره په اړیکه کې ووسي. سبا سهار چې هو- لان د تګ چمتوالی لرو، کلیوال د هغې په کور کې سره راغونډ شوي وو.



له دې وروسته، د ډهل د غږ په ودریدلو سره، یو فرمان راغی: « د کلي ټول سړي، ښځې او ماشومان باید د معبد مخې ته راغونډ شي.» دښمن کلی کلابند کړی و.